# پۀ پښتو جدید نظم د خدائي خدمتګار تحریک اثرات

The Impacts of Khudai Khidmatgar Movement on Modern Pashto Poem.

Akhtar Iqbal Yousafzai[1]
Dr. Sohail Khan


## Abstract

With the emergence of literature of World in twentieth century, Knowledgeable and Ideological thoughts also shown progress. As the art of literature was in full swing towards progress, the imperialistic and bourgeoisies thought inclined hurdles. In this way literacy progress produced Barbarism in the field of literature and Art. The same barbarism also poured in to Pashto land. There was a lot of differences among the nature and temper of Pashtun and British's. The British`s want to make Pashtuns as their as their subjugation and Pashtuns always resistance as free people. A huge number pf bloody wars prevailed between Pashtuns and British. As that time, Khudai khidmatgar movement was the main political movement in the region. The leader of khudai khidmatgar movement was Abdul Ghafaar khan (Bacha khan) who oppose British's with non-violence. The khudai khidmatgar movements writers and poets inscribed on the non-violence which shows great impacts of common folk as well as Pashto literature. Which resultantly produced the passion of freedom and remaking among the Pashtuns in this row of literacy inscription. The renewed scholars like Fazal Mehmood Mahfi, Abdul Malik Fida ,Fazal Raheem Saqi, Abdul Khaliq Khaleeq ,Ghani khan ,Rahat Zaheli and many more included who his describe and produced to the common folk.


پېرنګي چې کله د برصغیر پاک و هند نه ښپې چاپېره کړې نو د برصغیر د نورو قومونو تر څنګ ئې پښتانۀ هم په اغېزه کښې راغلل. پۀ هندوستان خپل حکومت برقرار ساتلو د پاره ئې د پښتنو جغرافیه ټکړې ټکړې کړه او ډېرې چالاکۍ سره ئې د پښتونخوا په چاپېره سیمو کښې د غلامۍ دامونه خوارۀ کړل په دغۀ دامونو کښې د پښتنو غېرولو د پاره په قسما قسم ظلم او جبر لاس پورې کړو . خو ولې هغوي دا خبره بڼۀ شعوري طور نۀ وه منلې چې پښتون قام پخپله خاوره غېرو ته د قدم کېښودو اجازت نۀ ورکوي او پخپله خاروه د خپل اختیار قائل وي.

[1] PhD Scholar, Department of Pashto, University of Peshawar

د شلمي پېړۍ په راتګ سره په نړۍ کښې يؤ ډول بدلونونه راغلل اؤ ډېرو غلامو هېوادونو اولسونه د غلامۍ د زنځيرونو نه آزاد کړو. د پښتنو پۀ خاوره هم د هشنغر د سبمې نه د خدائي خدمتګار په نوم يؤ داسې فعاله تحريک رامېنځ ته شو چې نۀ ئې صرف پښتنو له آزادي تر لاسه کړه بلکه د پښتون قام پۀ ټولنيز ژوند کښې ئې هم لوئے بدلون راوستو. چې مشري ئې خان عبدالغفار خان ( باچا ) کوله. چې د دې تحريک ترمخه ئې په کال ۱۹۲۱ کښې د انجمن اصلاح الافاغنه په نوم د يؤ اصلاحي تنظيم بنياد ابښودے ؤ. دې انجمن په چاپېره سيمو کښې د پښتنو بچو د تعليم د پاره د سلو نه زياتې آزادې مدرسې جوړې کړې وې. پۀ دې سکولونو کښې به د پښتنو بچو د علم سره سره هنرونه هم زده کول او دې نه علاوه به کلبزې مشاعرې او ستېج ډرامې هم کېدلې چې په خلکو ئې ډېر اثر وکړو پۀ دې مشاعرو کښې د خدائي خدمتګار تحريک شاعرانو قامي او انقلابي نظمونه اورول. چې دې نظمونو په پښتون اولس کښې فکري بېدارۍ اؤ سياسي شعور ته وده ورکړه اؤ پښتو ژبې او ادب ته ئې ډېره ګټه اورسوله.

بل اړخ ته باچا خان د پښتو ژبې د پرمختګ اؤ ژوندۍ ساتلو د پاره دا لوړ ګام هم پورته کړو. "چې قامي ژبه کښې ئې د اطلاعاتو او ليک لوست په ذريعه د رائے د اظهار د مباحثې وسيله او اله مېنځ ته راوړۀ. پۀ کال ۱۹۲۸ کښې ئې د پښتون مجلې د اجرا پۀ ذريعه د پښتنو خپله قامي مېډيا جوړه کړه. د دې مجلې په ذريعه قامي بيانيه هم پۀ مخکښې تله پښتو ژبې هم پرمختګ کولو او د قام د لرې او بيرته سيمو تر مېنځ تړون هم جوړېدو. دې سره سره يؤ مهم کار دا هم اوشو چې پښتنو مېرمنو د پښتون مجلې په ذريعه د دې قامي تحريک پۀ فرهنګي، فکري اور ادبي اړخونو کښې نبغ په نبغه خپله ونډۀ اچول شروع کړل" [i]

پۀ کال ۱۹۲۹ کښې خدائي خدمتګار تحريک پۀ وجود کښې راغلو. خدائي خدمتګار تحريک د پښتونخوا د خاورې د شلمې پېړۍ د پښتنو اولني غورځنګ ؤ. د دې غورځنګ نه لوئې لوئې اديبان، شاعران، پوهان راپېدا شول چې د دې قام د آزادۍ او خپلواکۍ د پاره ئې ځانونه قربان کړل. پۀ دې مقاله کښې د څو نامتو شاعرانو ذکر شوې دې څو ټول په ټول شاعران نۀ دې ياد کړې. د دغو شاعرانو تسلسل اوس هم په شاعرۍ کښې پۀ نظمونو کښې پۀ سماجي او سياسي اړخونو کښې روان دې. خدائي خدمتګار تحريک پښتو ادب ته عموما اؤ پښتو جديد نظم ته خصوصا ډېره لويه وده ورکړې ده.
پۀ پښتون مجله کښې چې شاعرانو او اديبانو خپل ليکونه پېل کړل نو دې سره د پښتو ژبې اؤ ادب پۀ دنيا کښې د يؤ نوي بامقصده اؤ حقيقت پسنده ادب ابتدا هم اوشوه. پۀ دې ليکوالانو کښې يوه ډله د هغه نظم ګو شاعرانو وه چې کومو به د خدائي خدمتګارو پۀ جلسو او جلوسونو کښې د خپلو انقلابي نظمونو په ذريعه پۀ اولس کښې د بېدارۍ جذبې راپارولې. دې شاعرانو د خپلو ډول ډول نظمونو په تخليق کولو کښې د جديد پښتو نظم لمنه فراخه کړه او په جديد نظم کښې ئې قوي مذهبي، انقلابي، ترقي پسند، تاريخي، تمثيلي وغېره نظمونه تخليق کړل.

جدید د عربۍ ژبې لفظ دے چې معنی ئې نوے یا نوے والے ده . په انګرېزۍ کښې دې د پاره ماډرنزم لفظ استعمالېږي.

"" جدید نوي ته وائي او د زوړ په تضاد کښې راځي

په دې معنو کښې هر هغه کار چې د روایت په ضد

راوځي هغه نوے دے"" ii

په پښتو ادب کښې د نظم آغاز د امیر کروړ نه کېږي خو د جدید نظم ابتدا د هغه ځائے نه کېږي کوم نظمونه چې د فرنګي د حکومت قائمېدو نه پس لیکلي شوي دي . چې سرخېل ئې فضل محمود مخفي دے . چې د جدید نظم باني ګڼلے شي او د جدید نظم خولۍ ئې د قامي ملغرونه ډکه کړې ده . پروفېسر ډاکټر سلمی شاهین د مخفي صېب د نظم په اړه لیکي .

"" د مخفي صېب د نظم خاصیت یوازې دا نۀ چې نوے او جدید دے

بلکې په یو شعوري انداز کښې ئې د پښتو د شعر اصلیت ترمخه

نیولے دے . تحریکي روایت ئې ببخې پرېښے دے او د ملي بحرونو

او د آوازونو شاعري ئې په دې انداز کړې ده چې د پښتنو د مزاج

مطابق وي . دا د نظم د مقصدیت یو اعلی انداز دے چې کوم اولس

ته د آزدۍ سبق ورکولے کېږي نو په هغه نظم کښې دې ورکړې شي

کوم چې د دوي سره وُ."" iii

لکه دا نظم ئې د قامي وحدت اؤ د پښتنو د اتفاق ترجماني کوي :

خاونده تۀ ودانه کړې زمونږ د یو والي حجره

یو ځائے پکښې د ځانه کړې د پښتنو ډله خوره

کشمیر نه تر هرات پورې

بلوچستان نه تر دورې

دا ټول پښتون دے هر چرې

څهٔ رنګې پروت زرې زرې

د یو وجود پښانې کړې . یا خدایه دا زره زره [iv]

د مخفي صیب پهٔ نظم کښې د ګل و بلبل اؤ خط و خال په ځائے د اولس درد او غم څرګند لیدے شي. د مخفي صیب پهٔ اړه باچا خان پهٔ خپل کتاب "" زما ژوند او جدوجهد "" لیکي

"" د پښتو پهٔ شاعرۍ کښې انقلاب دهٔ راوستے ؤ . د زلفو ، کاکل

اؤ خط و خال او ګل اؤ بلبل پهٔ ځائے ئې قام او وطن ته د شاعرۍ

مخه وګرځوله . زهٔ دهٔ ته د پښتو شېکسپئر وایم "" [v]

د فضل محمود نظمونو راتلونکیو شاعرانو ته لاره جوړه کړه او تر دې دمه پرې یؤ شمېر شاعرانو خپل سفرونه تر سره کړل.

په جدید نظم کښې بل نوم د راحت زاخېلي هم دے چې د جدید نظم د سرکسانو کښې شمېرلے شي هغه وخت ئې خپلو نظمونو د پاره قلم پورته کړو چې فرنګي استعمار د پښتنو نه د غلامۍ زنځیرونه چاپېره کړي وو لکه چې لیکي:

غلامۍ کښې فائده نهٔ کړي تدبیرونه

چې ایمان کامل وي مات شي زنځیرونه

پهٔ نظر د یؤ کامل مومن مسلم

پهٔ دنیا کښې ډېر بدلېږي تدبیرونه [vi]

د سید راحت زاخېلي د نظمونو نه د قومي مینې د وطن د آزادۍ او غلامۍ نه د نفرت جذبات څرګندېږي.

چې پکښې د "" وطن خاوره "" ، "" مکالمه "" ، "" قندهار ته خطاب "" او داسې نور نظمونه شامل دي.

د خدائي خدمتګار تحریک په شاعرانو کښې بل نوم د محمد اکبر خادم هم دے چې د شاعرۍ موضوعات

ئې د آزادۍ تحریک سره تړلي دي. پهٔ شاعرۍ کښې ئې د پښتون د یؤ والي قیصه هم شته او د غلامۍ د ژوند د خلاصي لارې هم . خپلو نظمونو کښې ښئې اولس ته خپل پېغام د اشتهارونو او پمپلټونو په شکل کښې رسولو. پهٔ خپل یو نظم "" غلامي د کفارو"" د عنوان لاندې لیکي :

بل د خدایا چې د بل په در کښې سرېږدي

څوک قلنګ چې د خپل ځان د خپل افسر ږدي

عقوبت به د هغو د لاسه سپک شي

څوک دراڼۀ د غېرالله چې پۀ خپل سر ږدي [vii]

پۀ دغه زمانه کښې د محمد اکبر خادم ټول نظمونه انقلابي او خپلواکۍ درس نه ډک دي. خو روستو ئې د آزادۍ د تحريک نه خپله لار بدله کړه د ډېر خفګان پۀ وجه د تحريک د ملګرو نه جدا پاتې شو.

پۀ دغه دور کښې بل يؤ نومړے جديد نظم ګو شاعر عبدالمالک فدا دے چې د خپلو نظمونو پۀ ذريعه ئې پۀ لږ وخت کښې ډېر مقبوليت تر لاسه کړو . کۀ يؤ طرف ته ئې په خدائي خدمتګار تحريک کښې عملي مبارزه کوله نو بل اړخ ته ئې د قلم د لارې هم خپل خدمت کولو. "مرګيه مۀ راځۀ درځمه "نظم ئې ډېر شهرت لري . دا نظم ئې په هغه واقعه ليکلے دے چې د بابړې په مقام پۀ دولسم اګست ۱۹۴۸ کښې د خدائي خدمتګار په پرامنه جلوس د خان قيوم مسلم ليګي پۀ حکم د ګولو باران ورولے ؤ. دلته د دې نظم يؤ بند راوړم

پۀ چارسده کښې کربلا ده

د غدارانو پرې صلاح ده

پۀ سرفروشو واوېلا ده

زۀ د خپل قام سره پۀ مرګ سيالي کوومه

مرګيه مۀ راځه درځمه [viii]

دې نه علاوه د عبدالمالک فدا پۀ نظمونو کښې "ماليار چې شوکوي کلې د ګلو ماليار نۀ دے" ، "بې غېرتو "او "بوډۍ" جديد پښتو کښې ډېر ارزښت لري .

عبدالخالق خليق هم د شلمې پېړۍ د وړومبۍ نيمايۍ ډېر اهم شاعر دے . د خپلو نظمونو په سبب ئې د ازادۍ په تحريک کښې د يؤ سنجيده شاعر په ځېر څرګند شو. عبدالخالق خليق کۀ هر وخت په وخت د جېل د تورو تمبو شاته شو خو خپله مبارزه ئې نۀ ده پرېښودې. خدائي خدمتګارو به چې سالانه مشاعرې کولې نو په اکثرو مشاعرو کښې به د نظم د پاره طرحه کېښودې شوه چې راغلو شاعرانو به پرې نظمونه ليکل . خليق صېب به هم په دې مشاعرو کښې برخه اخسته اؤ خپل نظمونه به ئې وئيل .

پۀ کال ۱۹۳۷ کښې چې باچا خان ډېره موده پس جېل نه راغلو نو خدائي خدمتګارو به ورله ځائے پۀ ځائے جلسې کولې . دغسې يوه جلسه د پېښور په تهکال کښې د قاضي عطاالله خان پۀ صدارت کښې جوړه شوې

وه او مشاعره پکښې هم شوې وه. چې عبدالخالق خلیق پکښې پهٔ دې طرحه "د ازادۍ نښان پهٔ لاس فخر افغان راغے" خپل نظم اورؤلے ؤ .

نوے ژوندون اؤ نوے دور نوے دوران راغے

نوے قانون نوے نظام پهٔ نوے شان راغے

انځور د ملک به شفاياب شي له همه رنځونو

چې معالج ئې خصوصي ډاکټر خان راغے

د کبر خیو ماتي پرمخي نسکورې شولې

دور د عزت نن پهٔ جونګړه د دهقان راغے [ix]

د دغه دور مشهور شاعر خدائي خدمتګار فضل الرحیم ساقي پهٔ جدید نظم ګو شاعرانو کښې یؤ ښکاره او پېژندلے نوم دے . چې هم ئې پهٔ عملي سیاست کښې برخه لرله نو هم ئې د قلم د لارې د قوم او وطن خدمت کولو . کهٔ پېرنګیانو به د خپلې وېرې د نورو خدائي خدمتګارو پشان فضل الرحیم ساقي پهٔ جېل کښې بندیوان ساتلو نو هلته بهٔ ئې هم زړهٔ صبر نهٔ کولو . د بندي خانې نه به ئې د شعر د لارې اولس ته پېغام رسولو لیکي :

غواړم د خپل سپېرهٔ وطن نام او نښان غواړمه

پښتونستان غواړمه ... پښتونستان غواړمه

د خپل مذهب او د پښتو ساز او سامان غواړمه

پښتونستان غواړمه ... پښتونستان غواړم

پښتو پهٔ خپل وطن خپل اختیار کړې ربه

دښمن ئې خوار کړې ربه [x]

د فضل رحیم ساقي په نظم د خدائي خدمتګارۍ تحریک اثرات ډېر جوت لیدے شي. نظم ئې اسان ، ساده ، زړهٔ راښکونکے او دلنشین دے. د دې خدائے بخښلي د شاعرۍ درې کتابونه "نیم جام" ، "ډک جام" ، "مېخانه پېمانه پهٔ پېمانه" پهٔ نومونو چاپ دي. چې ګڼ شمېر نظمونه لري .

پۀ جدید نظم کښې بل نوم عبدالغني خان د ے. غني خان د خدائي خدمتګار د تحریک بنسټ ګر عبدالغفار خان زوئے او د اتمانزو ازاد سکول طالب علم ؤ. چې ډېر په ماشوم والي به ئې د سکول پۀ سالانه ډرامو او مشاعرو کښې برخه اخسته . غني خان بنیادي طور د نظم شاعر د ے چې د خپل دور پۀ شاعرانو کښې یؤ ممتاز او ځانګړے حېثیت لري . د خپلو خیالاتو او جذباتو د اظهار د پاره ئې د نظم صنف غوره کړے د ے. پۀ جدید نظم کښې ئې د هېئت پۀ لحاظ نوے نوے تجربې راځي. غني خان ځکه د نورو شاعرانو نه ځانله یؤ انفرادي حېثیت لري چې هغه پۀ خپل انداز بیان کښې د چا تقلید نۀ کوي . ځانته ئې خپله لاره ټاکلې ده. اؤ هم یوازې پرې سفر کوي. غني خان د ازادۍ پۀ تحریک کښې هم عملي برخه لرله. چې ډېر پۀ کم عمرۍ د هندوستان د اسمبلۍ ممبر جوړ شوے ؤ. دغه وخت به هم د ازادۍ په جذبه سرشار ، د غلامۍ نه پۀ خلاصون او د مزاحمت او بغاوت پۀ انداز کښې نظمونه تخلیق کول . "کۀ خبر وي نظم ئې د نمونې پۀ طور راوړم .

ستا ګولۍ دي پېرنګیه زمونږ سینې

زمونږ وار به یو ورځ ووېنې ووېنې

دا ستا د کمال به زوال شي زوال

در به کړو د غېرت د جرات نمونې

دا زمونږ بچي چې نهر ژاړي نن

د دې اوښکو پۀ ځائے به ځي ستاسو وینې [xi]

دې نه علاوه غني خان ګڼ شمېر نظمونه تخلیق کړي دي چې د غني خان ادبي شخصیت او مقام ترې پۀ ګوته کېږي . پۀ جدید نظم ګو شاعرانو کښې ترې پوره نسل متاثره او مقبول شاعر د ے .

د خدائي خدمتګار تحریک قومي او انقلابي شاعر ګل احمد چې د صوابۍ مرغز کلي سره تعلق درلود او د خپلو انقلابي نظمونو په وجه ټوله پښتونخوا کښې مشهور ؤ. چرته به چې هم جلسه وه خپل انقلابي نظمونه به ئې پکښې وئیل. کلام ئې ډېر زړۀ راښکونکې او د خوند او د ازادۍ د مفهوم نه ډک دې. په کال ۱۹۳۰ چې په اتمانزو کښې مشاعره وه چې طرحه ئې "جنګ دازادۍ له همېشه زلمي وتلي دي "ابښودې شوې وه. پۀ دې طرحه ګل احمد کاکا هم نظم لیکلے ؤ. چې پۀ دې نظم ئې انعام هم ترلاسه کړې ؤ. او دا نظم ئې تر اوسه پۀ جلسو جلوسونو کښې وئیلے کېږي.

جنګ د ازادۍ له همېشه زلمي وتلي دي

رابۀ وړي غنچې د ګلو نن صبا کښې تلي دي

باز کۀ د غماز پۀ منګل کښې هيڅ پروا نشته

مونږ د زړۀ پۀ غوښو باتوران ورله ساتلي دي

نۀ کوے تعليم د ازادۍ پښتونه رونډ شولې

تا د غلامۍ په مدرسو کښې څۀ لوستلي دي. [xii]

د دې انقلابي شاعر پۀ اړه فهيم سرحدي ليکي:

" قومی شاعر گل احمد اور ان کی انقلابی نظمیں بھی تھیں جو وہ اپنے ایک

خدائی خدمتگار ساتھی فردوس کے ساتھ ہر جلسے میں سناتے تھے۔" [xiii]

د دې خدائے بخښلي ژوند هم پۀ ډېرو تکليفونو او بندي خانو کښې تېر شوے دے.

ولي محمد طوفان چې د تقسيم نه وړاندې ئې د ازادۍ په تحريک کښې خپل خدمات تر سره کړل . د خپل نظم د لارې ئې په پېرنګي باندې داسې طوفان راوستو چې د هغوي د غرور ماتې ئې ښکته ګزار کړې. پۀ خپل يو نظم "" ايمان او پښتو ""کښې پۀ خپل غېرت او ايمان فخر کوي او هر غليم ته لکه د ډال مخې ته ولاړ دے او په خپل زړۀ کښې پښتو شمع بله ساتي:

سر به ښکته چا ته نۀ کړم پۀ جهان کښې

زېږېدلے يم لمن د کوهستان کښې

هسې رنګ زمان ايمان دے پۀ پښتو کښې

لکه څنګه چې پښتو مې ايمان کښې

لکه غاښے د خېبر چې ټينګ ولاړ دے

هر غليم وته ولاړ يم پۀ مېدان کښې [xiv]

اجمل خټک د خدائي خدمتګار تحريک عملي ، سياسي او ادبي مبارز نظم ګو شاعر پۀ پښتو جديد نظم کښې ښکاره ځلنده نوم دے .

"" اجمل خټک نۀ يواځې دا چې د پښتو جديد نظم د پاره کلک بنياد

کېښود ے بلکه د مقصديت ،ترقي پسندۍ او قام والۍ د شديد

احساس او جذبې داسې شاهکار نظمونه ئې تخليق کړل چې کۀ هر

څو د عمر پۀ لحاظ د لويو شاعرانو نه ورستو راځي خو د خپل اسلوب

او منفرد انداز په برکت د جديد نظم د دغه انداز باني ګڼلے شي.[xv]

پۀ لاندني نظم کښې پښتنو ته د يو والي درس ورکوي

يه پښتنو يه لېونو پښتنو

راځئ پۀ کور کښې مرکه شو سره

د سيالۍ وخت دے چې جرګه شو سره

دنيا بدلېږي ورته ځان بدل کړو

دغه د ظلم زوړ جهان بدل کړو[xvi]

اجمل خټک د جديد نظم انداز ډېر بۀکمال سره وړاندے کړے دے د دوي جديد نظم د اعلی فني ښکلا پۀ سبب د دنيا دادب د نظمونو پۀ مقابله کښې هم جوت ليدے شي . د خپل سياسي مقصد پۀ غرض ئې د پښتو پۀ جديد نظم کښې د قام پرستۍ او ترقي پسندۍ د خيالاتو ترجماني کړې ده.

د دې دور په جديد نظم ليکونکيو کښې مزاحمتي او انقلابي شاعر کرامت شاه فولاد هم دے . د پاکستان د جوړېدو نه مخکښې ئې د ازادۍ او قامي خپلواکۍ د پاره ډېر نظمونه تخليق کړي دي. د دغه وخت په پښتون مجله او نورو ورځپاڼو کښې به ئې کلامونه خپرېدل . خپل شعر ئې د دغه يو مقصد د پاره وقف کړے ؤ. د کرامت شاه فولاد ارمان پۀ خپله خاوره خپل اختيار او د پښتنو د نوم سره منسوب پښتونستان وطن ؤ. چې وائي:

پۀ مرئي توب کښې د چا څۀ حيا عزت پاتې دے

خود مختارۍ کښې د وطن خوند او لذت پاتې دے

د فولاد شورېږي قرار جرم ګڼي

پښتونستان چې له زمونږ د ټول ملت پاتې دے[xvii]

د خدائي خدمتګار تحريک د اثر لاندې پۀ جديد نظم کښې بل وتلے نوم د قلندر مومند دے چې هم ئې د عمل د لارې او هم د قلم د لارې مبارزه کوله. په دغه لړ کښې ئې د قېد او بند سختۍ زغملې دي او د تشدد سره

مخ شوے دے. د وخت د ظالمانو خلاف ئې داسې نظم تخليق کړو چې د مظلوم د ملګرتيا پورا پورا حق ئې ادا کړو.

د پښتون په کور او کلي چې د زور اورونه بل شي
چې انګريز راته اورنګ شي چې فېرنګ راته مغل شي
په لړمون د پښتونخوا کښې چې رانښخ د ظلم شل شي
باچا خان چې ببرغ واخلي اؤ اولس ورسره مل شي
نو د پت پاللو قام ته زۀ تاکيد خو به کوومه [xviii]

د خدائي خدمتګار تحريک دې قامي شاعرانو د ازادۍ په تحريک کښې تر هر چا لويه برخه لره. دوي په خپلو نظمونو کښې د غلامۍ نه د کرکې اؤ نفرت اظهار کړے دے. سړي خو سړي چې د پښتنو زنانو هم د غلامۍ بد وئيلي دي. او خپلو نظمونو کښې ئې د غلامۍ نه کرکه کړې ده. د نوښار ضلعې سيده بشرى بېګم چې ډېره ذهينه مېرمن وه. د پاکستان د جوړېدو نه مخښکې ئې د ازادۍ او خپلواکۍ د پاره قامي او انقلابي نظمونه ليکلي دي. چې د هغه وخت "" پښتون "" مجله کښې به د "س ب ب "" په نوم چاپ کېدل. وائي چې :

يو ځل دې ځار په معشوقه شي عاشقان د وطن
زمونږ په وينو دې تازه شي وچ بوستان د وطن
چې ترقي د قوم وطن د ځان زينت ومني
خوب د غفلت نه بيداره شي زنان د وطن [xix]

د زنانو په دې لړۍ کښې بله شاعره الف جان خټکه انقلابي شاعره او د ازادۍ د غورځنګ ستره مبارزه پاتې شوې ده. کۀ يؤ اړخ ته د الف جان خټکې پۀ نظمونو کښې د پېرنګيانو نه ازادي ترلاسه کول ليدل کېږي نو بل خوا پکښې د پښتنې ټولنې د جهالت په تور تيارو کښې بنديوانې مېرمنې هم د دې زندان نه راوباسي او د خپلو حقوقو نه ئې خبروي :

ښځې هم زړونه لري زړو کښې خواهشات لري
سر کښې مازغه لري مازغو کښې احساسات لري

کاڼي خو نۀ دي دا هم ستا پۀ شان جذبات لري

ښۀ خيالات لري بلکې تانه زيات لري

دا بې ګناه مرغۍ دې بندې کړې پنجرو کښې ولې

وابې کړې ښځې دې ژوندۍ په اديرو کښې ولې [xx]

هم دغه شاعره د ازادۍ او غلامۍ پېژندګلو څۀ پۀدا ډول کوي.

ازادي څۀ ده د خدائے نعمت دے

غلامي څۀ ده د خدائے لعنت دے

کۀ دا دوزخ وي هغه جنت بوله

شک چې ونۀ کړې دا حقيقت دے [xxi]

د جديد نظم پۀ ډېرو زنانو ليکوالانو د خدائي خدمتګار تحريک اثرات مونده شي. چې د خپلو نظمونو د لارې ئې د دې غورځنګ بيانيه پۀ وړاندې بوتلې ده . د دې نه علاوه د خدائي خدمتګار د تحريک سره تړلې ټولو شاعرانو ، اديبانو په شريکه سره د خپلې خاورې د ازادۍ ، ترقۍ ، مينې او ورورولۍ د پاره خپل قلمونه پورته کړي دي. چې د پښتو ژبې او ادب لمنه ئې د رنګا رنګ ملغلرو نه ډکه کړې ده. اؤ پۀ جديد نظم کښې ئې يو ډول بدلون راوستې دے. د جديد نظم په لمنه کښې ئې روښان فکري . له غلامۍ نه کرکه ، مقاميت ، خپل تاريخ، عدم تشدد ، د استعمار مخالفت ، ساده او عام فهمه ژبه او په خپله خاوره خپل اختيار ، ښځو ته درناوې، اتفاق او ورورولي ، حقيقت پسندي او نور داسې هغه ځانګړتياوې دي چې د جديد نظم په اغېزه کښې راغلې دي . پۀ دې حقله سليم راز صيب ليکي چې :

"" د خدائي خدمتګار د سياسي تحريک پۀ نتيجه کښې راپيدا

شوے يۀ ادبي بهير ؤ چې پۀ پښتو ادب کښې ئې انقلابي تبديلۍ

راوستې . دا تبديلۍ د هيئت او اسلوب په لحاظ هم چې پښتو

ادب خصوصاشاعري پۀ هر لحاظ غني او د عصري تقاضو مطابق

کړه. پۀ پښتو کښې د جديد نظم ابتدا هم له دغه ځايه کېږي او د

نظم په فارم او خیال کښې ئې نوې نوې تجربې کېږي "" [xxii]

د ښاغلي سلیم راز صیب د وینا مطابق چې خدائي خدمتګار تحریک پښتو ژبې او ادب ته څۀ ورکړي دي دومره بل تحریک نۀ دي ورکړي . پۀ خصوصي توګه په جدید نظم کښې ئې نوې نوې تجربې وکړې او د نوي فکر او نوي تقاضو مطابق ئې پۀ جدید پښتو نظم کښې نوے روح واچولو . ډاکټر سلمی شاهین لیکي :

"" انجمن اصلاح الافاغنه چې روستو د خدائي خدمتګار

تحریک په نامه یاد شود هغه وخت ټول لوئې لوئې شاعران

او ادیبان رایوځائے کړل او د شعر او ادب پۀ ذریعه ئې

د ازادۍ تحریک ته د ودې ورکولو کار اغاز کړو. داسې

جدید نظم د پښتو پۀ لمن کښې ځائے هم شو او د پښتو پۀ

خاوره ښۀ زرغون هم شو "" [xxiii]

د ډاکټر سلمی شاهین د وینا تر مخه د پښتو جدید نظم تر دې دمه پورې ښۀ ترقي وکړه. پۀ سوؤنو شاعرانو ئې پېدا کړل چې تر دا دمه وجود لري او د نوې زمانې مطابق هم د دې تحریک د اثر لاندې په نوې شکل کښې د خپلو نظمونو پۀ ذریعه خپله مبارزه جاري ساتي. پۀ دې مقاله کې ما د هغو شاعرانو ذکر راوړو کومو چې د ازادۍ نه مخکښې په پښتو جدید نظم کښې د خپلو قلمونو پۀ زور مبارزه کړې ده. چې د ازادۍ نه پس ئې هم خپل کار له توان ورکړو. او نوي نوي شاعران ئې پېدا کړل پۀ دې شاعرانو کښې شمس القمر اندېش، ډاکټر اسرار ، سیف الرحمان سلیم ، ډاکټر صاحب شاه صابر، رحمت شاه سائل ،افراسیاب خټک ، سلمی شاهین او حسینه ګل تنها د ذکر وړ دي . چې پۀ جدید نظم کښې ئې نوي موضوعات ځائے کړل چې راتلونکیو شاعرانو ته ئې د یؤ نوي مکتب لار جوړه کړه.

[1]. خادم حسين ، ژبه ، قام اؤ ادب ، باچا خان ټرسټ ريسرچ سنټر ، امن پرنټنګ پريس ، پېښور ، جنوري۲۰۲۰ ، م۳۰

2. شاهين ، سلمی ، جديد نظم په پښتو کښې ، پښتو اکېډمي ، پېښور يونيورسټي ، جدون پرنټنګ پرېس ، مخ17 ، پېښور،۲۰۱۲

[3]. هم دغه اثر ، مخ46

[4]. پښتون ، مياشتنۍ ، دسمبر ۲۰۰۸، مخ ۴۲

[5]. عبدالغفار خان، زما ژوند او جدوجهد ، دانش خپرندويه ټولنه ، پېښور، لومړے چاپ کال ۲۰۰۸، مخ ۶۱

[6]. همېش خليل، پښتانۀ ليکوال( اول ټوک) اباسين پرنټنګ پريس ، جنګي محله پېښور جولائي ۲۰۱۰ ، مخ ۶۶

[7]. هم دغه اثر ، مخ ۳۱

[8]. ادينزے ، ګل منير، د سياست نابغه ( خان عبدالولي خان) پښتون نړيواله مرکه ، ۲۰۱۶ ، مخ ۷۴

[9]. خليق ، عبدالخالق ، د ازادۍ جنګ ، اداره اشاعت سرحد قصه خواني بازار ، پېښور ، اګست ۱۹۷۲ ، مخ ۱۳۳

[1]0. ساقي ، فضل رحيم ، ډک جام ، د رهبر د اشاعت ځانګه ، س ن مخ ۵۵

[1]1. لټون ، غني خان ، ترتيب او تدوين ، حسرت، محمد زبير، خضر جاويد پريس لاهور، پنجم چاپ ، جون ۲۰۱۴ ، مخ ۳۰۶

[1]2. ارچيوال، احمد الله ، د خدائي خدمتګارۍ کلتوري اغېزې ، سروش کتاب پلورنځائے، ۱۳۹۸ لمريز ، مخ ۴۰

[1]3. سرحدی ، فہیم ، خدائی خدمتگار تحریک کے گمنام ہیرو ، میدان پرنٹرز، ۱۰ شاہراہ فاطمہ جناح ، لاہور، ۱۹۹۳ ، ص ۴۲۰

[1]4. طوفان ، ولی محمد طوفان ، غورځنګ ، عامر پرنټنګ ايند پبلشرز، پېښور، دوېم چاپ ۲۰۱۴ ، مخ ۶۱

[1]5. شاهين ، سلمی ، جديد نظم پۀ پښتو ادب کښې ، مخ ۲۴۹

[1]6. اجمل خټک ، د غيرت چغه ، پېښور ، يونيورسټي بک ايجنسي ، ۲۰۱۲ ، مخ ۳۸

[1]7. رهبر ،مردان، ۸ جنوري ، ۱۹۵۸، مخ ۱۰

[1]8. قلندر مومند، سباوون ، شاهين برقي پريس، اول ځل ، ۱۹۷۶ ، مخ ۴۰

[1]9. کاکا خيل ، سيد وقار علي شاه ، پښتنې ښځې او د قام خدمت ، امن پرنټنګ پريس ، پېښور، جنوري ۲۰۲۰ ، مخ ۱۳۰

[2]0. خټکه ، الف جانه ، ۱۹ اکتوبر ۱۹۴۶ ، پېرنګي بيا وغولول ، پښتون ، پېښور ، مخ ۱۲

[2]1. پښتون ، مياشتنۍ ، ۱۹۴۶ ، مخ ۶

[2]2. سليم راز ، خدائي خدمتګار تحريک او پښتو ادب ، پښتون مجله ، فروري ۱۹۹۹ ، مخ ۱۹

[2]3. سلمی شاهين ، جديد نظّ پۀ پښتو کښې ، مخ ۵۹